اوغنی افغانی تولنی تشکیل یواځی او یواځی د اسلام د مقدس دین په منلو او دهغه په عملی کولو مینځ ته را تلای شی موږ وینو چی زموږ جامعه اقتصادی استعمار کلتوری اوژ بنی او عقیدوی استعمار کړی لاری ته را کاږی .

موږ عقیده لرو چی ګران افغانستان یو مقدس تاریخی او جغرافیایی موجودیت دی او دا سپیځلیتا د دغه هیواد په غرواورغو کی په د ښتو او سیندونوکی په خاوری او هوا کی ترکیب شوی او هغه ددغی پاکی خاوری د خلکو د قوی او سپیځلی ایمان څخه را پیدا شوی چی پدغی خاوری یی وینی توی شوی او په کی خښی شویدی .

دا لیدل شوی چې په شرق کی د افغانانو په څیر هیڅ قوم د اسلام دین خپریدلو لپاره خپل سرونه ندی ورکړی او نه هیڅ قوم د غرب سیاسی او مذهبی استعمارته دومره کلکه څپیړه ورکړیده .

تاریخ شاهد دی چی زموږ خلکو د خپلو معتقداتو او عنعناتو د ساتنی په لارکی سختی قربانی ورکړی دی ، د هیواد اوسنی نسل دا مکلفیت لری چی خپل تول دینی او ملی توامیس د خپل ژوند په بیه و ساتی او په تول قوت سره هڅه وکړی چی پدغه ملت کی څرنګه چی خدای امرکړیدی اسلامی اخلاق تینګ پاته شی او خپل هیواد له استعمار څخه چی کله په تقلبی مذهبی رنګ او کله د قوغورپو دلو بغاړوپه سروشوندو او یاد ترانس پراتد صابون ترشا یاد ګمراه کوونکو فلمونو ، مجلو او کتابونه په مخونوکی او کله بیا «دیزم او تیک» د عنوانو نو لاندی او څینی

و ختونه پـه مینـی ژوب ، تویسـت او نورو غـربی دو دونـوکی ښکاره کیږی وساتی .

مونږ پدی ایمان لروچی زمونږ په مملکت کی طبقاتی هسکوالی او تیټوالی اقتصادی کمزورتیا ، بی سوادی ظلم ، ناروغـی اود ژوند نور مشکلات له دینی عقاید وځخه منځ ته نـدی راغلی بلکـه پدغـو چاروکی خارجی استعمار او تر زیاتی اندازی پوری داخلی استثمار او لوټماری لوي لاس لری .

که ددی تولنـی مشران او کشـران د یـوه مکلفیت له مخـی د اسلام د مقدس دین پیروي وکړی پدی کی شک نشته چی زمـونږ تولنی دغه تولی بی عدالتی او بیرته پاته کیدل به زر ترزره ورک او مونږ به اخلاقی او مادی معراج ته ورسیږو .

مونږ د خارجی غیر ضروری لکسو شیانو ، قاچاق ، یوارخیـز تجارت، رشوت، اختلاس ارتجاع ، استبداد او قانـون ماتولو سره کلک مخالف یو ، مونږ ته دا ثابته شویده چی پخپل سرحکومتونه هیڅکله ددغی خاوری د خلکو رنځ نشی دوا کولی .

مونږ د اسلام مقدس دین د سانیس ، تخنیک او د ځمکی پر مخ د ترقی اوپر مختگ لپاره دهر دول امکاناتو څخه دکاراخیستلو او د فضا د یوی برخی د تسخیرولو مخالف نه ګنو او دغه راز عقیده لروچی په هری تولنی کی صالح او سالم تمدن او د پوهـی او ساینس له ایـاری دا نسان پر مختگ هیڅکله د اسلام د سپیڅلی دین پـه مخ کی خنډنشی کیدی، بلکه زمونږ پوره باوردی چی د بشریت د رفاهیت او هوساینی لپاره د خدای(ج) او امروته غـاړه ایښودل او په ژونـدانه

کی فعالیت کول دواړه لازم دی .

موږ غواړو چې ددی جریدی د خپرولو پوسیله هغه توره پرده چې نن سبا دځینو متعصبو اونا رسیدلو متصوفینو او یاد عالم د مدعیانو او هغه څوانانو د ناوړه فکرونو په اثر چې د دین او عالم د دینوی پر مختګ مانع ګڼی د حقیقی دیندارنو او وطن پالونکو منورو څلمیانو ترمنځ څرېدلی ده لیرې کړو . . . .

دادی زموږ مرام او معتقدات :

ومن الله التوفیق

په دو هم مخ کی د «ای کابینه ، ای ورزاء» تر عنوان لاندی یو مطلب خپور شوی چې د افغانستان د مظلوم ولس د سیاسی او اجتماعی کړاومن ژوند په اړه د کابینی دغړو او حکومت د درنو مسؤلیتونو په هکله یادونه شوی ، د حکومت بی غوری او نمیګړتیاو وو ته ګوته نیول شوی او د حالاتو بشپړ جاج یی اخیستی ؛ مطلب دا دول پلیږی .

ای کابینه ـ ای ورزاء

«وقتیکه دورمیز مجاس وزراء جمع شدید ، بعداز نیکه با هم سګرت تعارف فر مودید و از احوال همدیګر پر سیدید و اعصاب کمی آرام گرفت ، بیا د بیا ورید که دسته شما سرنوشت چند ملیون انسان را به اختیار خود دارد این مردم زندګی مشقت باری داشته و آینده خیلی وحشتنا کی به انتظار شان است .

. . . این طبقه مردم میدانند که شما پریک تو ده بیچاره و بد بخت حکومت میکنید ، اما وضع شما هم از ایشان بهتر نیست بلکه به

مراتب بد تر است . محکومین شما زندگی چند روزه خود را به زحمت سپری میکنند درمیان سوز و گداز می میرند ، اما هنگام مردن روح شان آرام است ، زیرا مصدر ستم و حق تلفی بر دیگران نشده اند ، اما شما را هم تاریخ محاکمه مینمایند و هم رب العالمین در محشر به تقصیرات تان میگرد ، طبعا جزای آخرت نسبت به عذاب ومشقات این جهان به مراتب از روی کیفیت ، کمیت و دوام سخت‌تر است به عقیده این طبقه اگر طفلی در ولایات مرکزی افغانستان گرسنه است اگر افراد فامیلی در شمال شرق مملکت از برهنگی می لرزد و شب و روز از وجود روزگار زیریک گلیم مخفی شده اند ، اگر مادری در آیالت جنوبی بربالین پسر مسلول و محتضر خویش می نالد ، شماهریک ازین مسؤلیت بی بهره نیستیدو خداوند از شما پرسیدنی‌است.

. . . اگر نمی توانید موانع را دور بسازید و وظیفه ایمانی خود را انجام د هید پس بهتر خواهد بود که از وظیفه کناره گیری نمائید ما مطمئن نیستیم که بعداز استعفای شما اشخاص بهتری بجای شما بنشینند اما این اقدام از جانبی از مسؤلیت های تاریخی شما میکاهد و از طرفی میشود بری آیندگان نمونه نیکی بشود و بعد از ین هر شخص خواهی نخواهی کور کورانه بدون اینکه به نتیجه کار خود مطمئن باشد وظیفه بزرگ واختیار خانه مردم را بعهده نگیرد .

● ● ●

په دو هم مخ کی د (واینهم سوسیالیزم) تر عنوان لاندی یو مضمون خپور شوی چې په لند دول د سوسیالیزم پر تاریخچه ، او د هغه په ظاهر اصلاح او باطن تخریب ، باندی بحث شوی

د سوسیالیزم اصلی ما هیت اجتماعی سیاسی او اقتصادی خوا یې څیړلی او د تشوشعارونو له مخې یې ترغولوونکی ماسک لاندې د دوی فعالیت ته اشاره کړی ده .

په دریم مخ کې د (اسلام مسلک دی) تر سر لیک لاندې د مولوی صاحب محمد یونس خالص مضمون چاپ شوی ، چې اسلام ئې د یوی ایډیو لوژی او یوه ټولنیز سیاسی اقتصادی جامع او د بشر له فطرت سره سم نظام په توګه معرفی کړی دی .

د څلورم مخ په یوه کنج کې کښل شوی : «هغه اعلانات چې ملی اقتصاد نه متضرر کوی منل کیږی» دغه ټکی د ګهیځ د اسلامی جریدې څانګړنه ده ، په نور وغیر دولتی جرایدو کې دغه قید چې د وطن سره دمینې او د اقتصاد د پیاوړتیا سره علاقه ښیی نه لیدل کیږی ربښتیا هم د ګهیځ په جریده کې داسی اعلانات هیڅکله هم ندی خپاره شوی چې د هیواد اقتصاد ته زیان رسوی هیڅکله هم د بهرنیو لکسو غیر ضروری او فیشنی څیزونو حتی د سګرټو اعلانات هم ندی خپاره شوی . پداسی حال کې چې د دغه ورځ اعلاناتو د خپرید و حق النشر دومره زیات وُچې یوه اعلان یې د دوو دریو ګنو لګښت پوره کولی شو .

د ګهیځ د لومړۍ ګڼې د څلورم مخ په پیل کې په غټو تورو لیکل شوی : «د هغه او لوالا مراطاعت واجب دی چه په خپله د عقیدې او عمل له مخې مسلمان وی . . .)

د جریدې د لومړۍ ګڼې د خپریدو پر دو همه ورځ د حکومت له خوا د جریدې د توقیف امر صادریږی او د پولیسو او څار نوالی

له خوا په دیر لږ وخت کی له بازارنه تولیږی .

په څارنوالی کی د جریدی د مصادری علت دّ الوالا مر . . . . »
د شعار خپریدل وښو دل شو - حکه دا یی د افغانستان د اساسی قانون د دغه مادی څرګند مخالفت ښوده چی هلته «شاه غیر مسؤل او واجب الاحترام ګڼل شوی» ، ! ! !

پدی دول د ګهیځ اسلامی جریده په لومړی نشراتی قدم کی د حکومت له خوا مصادره شوه . چی دا په یوه مسلمان هیواد کی له یوی اسلامی خپرونی او یو اسلامی شعار، اسلامی فکر او اسلامی عقیدی په مقابل کی د وخت د حکومت پالیسی او خط مشی ښه په ډاګه کوی . په ۱۳۵۱ لمریز کی د حمل ۲۱ نیټی ګڼه، د څلورم نشراتی کال دو همه او پر له پسی ۱۳۹ ګڼه کی د جریدی د سر خط کلیشه هم پدلیږی ، نوی کلیشه دائیروی بڼه لری چی په منځنی برخه کی یی د کعبی انځور شاو خوا یی د نړی نقشه ، اخوت حریت ، عدالت ، مساوات کښل شوی او رانګی یی خپری کړیدی د پاسه پری بسم الله الرحمن الرحیم او د لاندی په نیمه دا ئیروی بڼه کی ګهیځ کښل شوی ، د جریدی تر دغه نیمه دا ئروی عنوان لاندی د افغانستان د اسلامی تولنی د افکارو خپروونکی» لیکل شوی .

استاد عشرتی لیکی: دسته از نهضت طلبان اسلامی بحیث همکاران قلمی پتشیبانی از اهداف این جریده اسلامی را قبول میکنند، همکاران قلمی این جریده که بیشتر از دیگران زحمت را بخود راه داده نویسنده گمنامی است بنام (ع ، م) و مولینا خالص رهبر حزب اسلامی افغانستان

و استاد ربانی رهبر جمعیت اسلامی افغان میباشند .

پدی دول د گهیځ جریده به بشپړه توګه د اسلامی جمعیت د نشراتی ارګان حیثیت غوره کړی ، د کلیشی بدلون او د افغانستان د اسلامی تولنی د افکارو د خپروونکی ارګان په توګه د جریدی معرفی چی دری ژباړه یی (ناشر اندیشه های جمعیت اسلامی افغانستان) ده ددغه خبری د ثبوت بشپړ دلایل څرګندوی .

د گهیځ جریدی نشراتی کړنه :

سر بیره پردی چی گهیځ جریدی د نهضت د نشراتی ارګان حیثیت درلود ، په نشراتی کړنلاره کی یی د وو اساسی مسایلوته زیات ځای ورکړی ؤ .

۱ـ د استعماری او کمونستی ایډیولوژی او تبلیغاتو پر وړاندی د یوی اسلامی عقیدوی او وګړنی پایګاه او سنګر تشکیل .

چی له دغه سنګر نه د استعمار او کمونیزم په تاریخی ابعادو اود تاریخ په پیرونوکی دکمونیزم جنایات، په سیاسی او معاشی برخه کی دکمونستی نظریی ابتذال او نا اندولی ځیرل شوی او په مقابل کی داسلام د روح او فطری جوړښت او د اسلامی دوران جوړوونکی نظام د نړیوال او انقلابی حیثیت په هکله د مطالبو خپرول او په لندوټکوکی د هردول استعماری او کفری مفکورو او استثماری سیستمونو سره مبارزه او جهاد ؤ .

۲ ـ گهیځ د خلکو او پرګنو د ستونزو ، رښو ، هیلو اوغوښتنو د خپراوی ، د بی کفایته او عیاشو حکامو د خپلسر یو او بی بند پاریو پر وړاندی مقاومت او مبارزی ته د دعوت د سنګر ټینګول او

د نړی د آزادی ښیونکو غوړ ځنګونو د مبارزو او پاڅون د انعکاس.
د یوی روښانه هنداری په نړه درلوده ، دغه ډول د ملی او بین المللی مسایلو په وړاندی یې د اسلامی آزاد د قضاوت پرینسپ د پریکړی دریځ په اساس نشراتی فعالیت کاوه .

د ګهیځ جریدی اختصاصی ستونونه !

ګهیځ جریدی تربیلا بیالو عنوانونو او کلیشو لاندی ځینی اختصاصی ستونونه لرل چې په لاندی توګه یې یادونه کوو :

۱ - تیره هفته

پدغه اختصاصی ستون کی د یوی اونی دننه کورنی او بهرنی ملی او بین المللی مسایل او انعکاسات را نغښتل کیدل .

د حکومتونو په کړنو او بی کفایتی انتقادونه شوی، اداری فساد ته ګوته نیول شوی ، د ځینو پټو ساز شونو په هکله خبرونی شوی، او د بین المللی حالاتو او د استعماری بلاکونو پرپالیسیو، سیاست، او روابطو لنډه څېړنه شوی او د تبصری وړ مطالب او مواد را غونډ شوی چې د یوی اونی په اوږدوکی خبری برخه هم پکی ځای شویده ، د مثال په ډول د ۱۳۵۱ لمریز د جوزا د ۱٤ نیټی د ۹ ګنی نه د(تیره هفته) تر سرلیک لاندی یو مطلب را اخلو:

هفته ګذشته ریچاردنکسن رئیس جمهور امریکا به روسیه شو روی سفر کرد ، که طبق اطلاع آژانش های خبر ګذاری فیصله های مهم دولتین درباره منع جلوګیری از تزئید راکت های قاره پیمای اتومی بوده ، گویا طرفین باین موافقه رسیدند که اضافه برانچه موجود دارند ازین نوع راکت ها تولید نمیکنند .

گر چه بعضی از مراکز سیاسی دنیا این موافقه را یک قدم مثبت جهت جلوگیری از مسابقات تسلیحاتی میدانند ، ولی بعضی ها فکر میکنندکه اگر این موافقه تنها به نفع هردو مملکت بزرگ باشد برای سایر ملل کرهٔ زمین مفادی در آن متصور نیست ، ایشان استدلال میکنند که چنین اسلحه را طرفین برای کو بیدن طرف مقابل انکشاف میدهند ، برعلاوه ، آنکه در اسلحه تقلیل رخ نداده که میان ملل مختلف برای کشتار همدیگر توزیع میگردد . شاید تقلیل درینوع سلاح بایشان فرصت بدهد که در تولید چنان سلاح توجه زیاده تری مبذول بسازند ، بآن هم همین حالا وجود راکت های اتومی قاره پیمابه (۱۵۰۰) تخمین میشود در حالیکه ۱۰۰ الی ۲۰۰ آن برای از بین بردن قدرت هر دو مملکت کفایت میکند .

ریچارد نکسن در پایان سفر خود هنگام خطاب به مردم شوروی گفت که میان ممالک متحده و روسیه وجوه مشترک زیادی موجود است بعضی از محافل سیاسی کابل این بیانات را قرین حقیقت دانستند زیرا که هر دو دولت در نفاق د گران صلاح خود را می بینند و هردو آرزوی اقای کره زمین را در سردارند و هردو در مفکوره های استعماری شریک و همکار همدیگر اند .

• • •

هفته گذشته انزجار مردم جلال آباد از مقامات امنی آنجا باوج خود رسید .

البته اکثر مردم کابل ازین افواه مطلعندکه یکدسته قمار بازان که بیکی از جریانات خلقی ارتباط دارند از پار تمانی قرانکریم را

پائین انداخته بودند ، طوریکه گفته میشود مقامات امنی جلال آباد به حمایت آنها برخاسته و ایشانرا به محکمه نمی سپارند برای اینکه ذهنیت مردم روشن شود باید پولیس جلال آباد ذریعه یکی از جراید توزیع بدهند .

د همدغه کال د جوزا د ۲۱ نیټی په ۱۰ گڼه کی د «تیره هفته» تر سرلیک لاندی لیکی :

تیره هفته د کابل د اسلامی مجالسو ډیره توجه د کندزدځوتنو متعلمینو موضوع وه چی په کابل کی بندیان دی .

دغه زد کوونکی پدی جرم نیول شوی چی په حضرت امام کی یی دپرچمیانو ددینی او ملی تخریباتوپه مقابل کی تبلیغ کړی وو. اصل خبره داده چی د پرچم جریان پدی آخر وکلونو کی برسیره پر کابل یواځی په لغمان او کندز کی یو څه نفوذ در لود په لغمان کی د دوی تغیر ددوی د افراطی او غیر اسلامی اعمالوله مخی نژدی راتول شو او د لغمان خلکو هغوی و پیژندل. په کندز کی هم د می دلو مړی ورځی پیښو خلکوته معرفی کړل او هغه داسی وه چی د کندز اسلامی مبارزینو څو ورځی ړومبی دکارگر له ورځی د پرچمیانو پلرونه ولیدل او د هغوی څخه یی وغوښتل چی د خپل اولاد دیانت ته دی متوجه شی هغوی د هلکانو د بی دینی په برخه کی ترد د وښود ، اسلامی ځوانانو ځینی سوالونه هغوی ته ورکړل او هغوی یی و پوهول چی د دغو سوالونو ځوابونه د اسلامی حقیقت له مخی داسی دی اودالحادی مسلک له مخی داسی، تاسی د خپلوز امنو څخه پوښتنه وکړی چی دوی د کومی

بسم الله الرحمن الرحیم

سریزه

د هیواد د پیاوړی فرهنګیال او نومیاند ژورنالست شهید منهاج الدین ګهیځ پر ژوند او مبارزه ښایي هغو ورونو کښنی او خبری کړی وی چی له مظلوم شهید سره یی نژدی اړیکی لرلی ، د مبارزی په کړښه یی ورسره یوځای ددغه فرهنګی سنګر په فعالولوکی برخه درلوده او له دوی سره یی په ګډه د ټولنی دوران او ویجاړ حالت د بدلون او یوه ټولنیز مثبت او ښټون لپاره مټی را ټغښتی وی،هغوی ښایي دده له ژوند ، دده لـه مبارزی ، او د ده لـه قلمی جهاد او او فرهنګی سنګرنه خبری کړی وی . دده پرهڅو، راتلونکو پروګرامونو د کار او مبارزی پرمیتود غږیدلی وی او دده پر ژوند او مبارزه یی بحث کړی وی او څه یی لیکلی وی دا حق د هغوی ؤ او دی .

خو له مانه می ګران ورور او د انقلاب ځوان لیکوال فاضل حبیب د نهضت د مخکښو شهیدانو د ژوند پیښو او مبارزی د یادونی په هغه پروژه کی چی دوی یی د «شهید اونی» د لمانځنی لپاره ترلاس لاندی لری د شهید منهاج الدین ګهیځ پرژوند او مبارزه د څه لیکلو غوښتیه وکړه ، سره لدی چی د معلوماتو د کمښت له امله زړه نا زړه وم خود قهرمان شهید د مبارزی او انقلابی دریځ درنښت او د ګران فاضل د خاطر ګرانښت راته د هردول عذر وړاندی کولو مخه بنده کړه

فلسفی له مخی څواب درکوی .

د می په ورځ چې پرچمیان سره راتول شوی اودکارګرپه نامه ورځ یې لمانځله د هغو پلرونه ورغلل او خپل سوالونه یې تری‌وکړل، الحادی څوابونه یې واوریدل ، نو دلته دغه څوابونه د دوی د عمل سره چې د اسلام بیرغ ته یې توکړی وو، یوځای خلک راوپارول اواخ اودب پیښ شو .

د دغه اخ اودب په نتیجه کې پرچمیان تیت او پرک شول او یومولوی دامنی قووا وولـه خوابندی شو ، خلکو په عمومـی صورت مداخله وکړه او هغه یې له بنده خلاص کړ .

د ثـور پـه اخـرکی چې د پوهنتون پرساحـی د تعـرض ورځ د افغانستـان پـه څینو ځایـونوکی لمانځل کیـده د کنـدز څنې اسلامی مبارزین حضرت امام ته تللی وو هلته یې د کمونستانو پر ضد خبری کولی د حضـرت امام حاکم نه ؤ ، د حکومت کفیل ولایت ته تلفون وکړ او دغه ورځی موضوع یې ډیره غټه او خطـر نا که وښیلـه ، کله چې متعلمین بیرته‌کندز ته راتلل په لاره کی ونیول شول ویل کیږی چې د دغه ورځی او د کارګرد ورځی پسته د پرچم یو یامصئونیته لیډر د کندز والی ته ورغلی ؤ او هغـه یې تهدیـد کړی ؤ، والی هم دغه څوانان د نوموړی لیډر په غوښتنـه لاس ترلی کابل ته راوستل .

دادی د وخت هغـه والی او د ده جرئـت ایمانـداری او وطـن دوستی،او دادی هغه حکومت چې د اسلام دعوه کوی . موږ له حکومت نه په کلکه دا غواړو چـې زر تر زه دغـه څوانان خـوشی

کړی، که نه برسیره پر هغی چی خپله اصلی بڼه به خلکو تەوروښیسی د خلکو د سخت انز جار سره به مخا مخ شی .

● ● ●

تیره هفته انتی بیوتیک دواګانی په کابل کی بیخی وزکی شوی او هغه مریضان چی دغودواګانو ته ضرورت لری په امراضوکی سوځی ویل کیږی چی عمده فروشانودوا احتکار کړی او د دالرد نرخ د تیتوالی له کبله (چی له هغو سره د مبارک او فرانک په جګه شوی) د عمده پلورنکو او دروغتیا د وزارت ترمنځ اختلاف دی .

موږ فکر کوو چی حکومت په دغی برخه کی جدی اقدام وکړی او هغه داچه :

۱ ـ د کشف جرایم څانګه دی احتکار شوی دواګانی راوباسی اوله هر چا څخه چی ووتللی جواز نامه دی ورڅخه واخستل شی.

۲ ـ دروغتیا وزارت دی په عاجل صورت یوه زیات اندازه انتی بیوتیک دارولە خارجه دالوتکی په ذریعه راو غواړی ترڅو عمده فروشان د جهل او غیر بشری رویی څخه واړوی هیله ده چی پدغه برخه کی د صحیی وزارت کافی توضیح خلکوته ورکړی . تیره هفته د حکومت د استعفا افواهم زیاته توده شوه ځینی خلک فکر کوی که حکومت په اوسنی وضعه کار وکړی له هغی نه به کارنه کول او استعفا ددوی په ګټه وی :

موږ او جراید

تر دغه کلیشه لاندی د افغانستان د مسلمان ملت د اسلامی حیثیت په جهت کی د دولتی او غیر دولتی جرایدو په مطالبو لنډ

بحث شوی . د هغو خپرونو په هکله چې د افغانستان له ملي بنیګړو او تولینز و مصالحو سره اړخ نه لګوی او د هیواد اسلامی تشخص پر خلاف خپرونی کوی ګوته نیول شوی او انتقادی متن تهیه شوی او د اوني د ننه د دولتی او غیردولتي و جراید په مطالبو تبصره شوی اود هغوی په کمزوریو اوبې اساسه تبلیغاتو باندی ځیرنه شویده همدارنګه دعالم‌اسلامی له مطبوعاتو او خپرونوهم یا دونه شوی ده .

و ګوری د ۱۳۵۱ لمریز د چنګابس د ۱۱ نیټی د ۱۲ ګڼی دوهم مخ :

هفته گذشته در جراید حکومتی خبری نشر شد که پوهاند اصغر رئیس انجمن دوستی شوروی و افغانستان شهادتنامه فارغان کورس روسی را توزیع نمود .

درینجا سوالی پیدا میشود که آیا کورس روس برای چه در مملکت ما دائیر میگردد .

اگر مطلب از آن تحصیل و آشنایی بایک زبان است که درآن کتب متعدد چاپ شده و باید مردم این زبان را بدانند تا از کتب مطبوعه استفاده کنند این وظیفه حکومت است که درترویج آن بکوشد و شهادتنامه توزیع کند واگر مطلب از دائر کردن کورس جلب دوستی و همکاری حکومت و مردم شوروی باشد باز درست که باید رئیس انجمن دوستی افغان و شوروی درآن د خالت کند.

و اینهم یکی از معضله های سیاسی است که مردم ماسر و بیخ آنرا نمی‌شناسد.

روز کاره:

جریده روز کار در شماره هفت سرطان خبری‌رانشرکرده که گویا اتحادیه محصلین جوانان مسلمان را از اتحادیه خارج کرد .

گهیځ : طوریکه بدون اسلام افغانستان وجود نخواهد داشت ، همچنان بدون جوانان مسلمان وجود اتحادیه غیرممکن است، اتحادیه محصلین تنهابا چند جریان محدود خلقی نمای استعمار پرست استاده نیست وبر جوانانی‌که افغانستان را برای افغانهای مسلمان میخواهند واکثریت عام و تام دارند متکی میباشند .

حقوق زن در اسلام :

تر لوړ عنوان لاندی په اسلام کی د ښځو پر حقوقو مفصل او علمی بحث شوی د ښځو د میراث ، طلاق ، نکاح ، مهر او داسی نورو موضوعاتو په اړه لکه د ښځو د تعدد مسلهٔ او په اسلام کی دښځی د مقام او حیثیت په هکله څیړنه شوی‌ده لکه چی ۱۳۵۱ لمریز د حمل د ۱۳ نیټی د لومړی گنی په دوهم مخ کی لیکی:

ماتاکنون از نگاه اسلام اساسات ذیل را در مورد زنان بحث کردیم :

۱ - زن در محیط انسانیت با مرد یکسان بوده هیچگونه امتیاز بین زن و مرد دیده نمیشود . (سوره النساء ۱)

۲ - آنچه را که در ادوار تاریخ به زن نسبت داده بودند وزن را برزخی بین انسان و حیوان فکر میکردند منسوخ قرارداده ، مقام زن را بسان مقام مرد تثبیت گردانیده .

٣ ـ این نکته را تائید نمود که زن متدین بوده عبادت ودخول جنت را مستحق میگردد وبسان مرد از پاداش اعمال نیک مستفید میگردد (سوره بقره ٢٦ ـ سوره ال عمران ١٩٥ ـ سوره اعراف ٢١ ـ سوره احزاب آیه ٣٥)

٤ ـ اینکه عربها قبل از اسلام دختران خودرا زنده بگور نموده و وقتی د ختری چشم بدنیا میگشود آنرا تشاوم و فال بدمی گرفتند، عمل زشت و مردو د خوانده بلکه ابلاغ گردیده خداوند بکسانی که بخواهد دختر نصیب میکند و کسانیرا که بخواهد پسر میدهد وتوضیح فرموده که نباید از دختر داشتن غمگین گردند .
(سوره نحل ٥٩ سوره تکویرا)

٥ ـ دین اسلام با اکرام واحسان به زن امر فرموده و تصریح داشت تابه تعلیم وحسن تأدیب آن سعی ورزند (سوره احقاف ١٥)

٦ ـ اسلام امر فرموده که تحصیل علم بالای زن و مرد فرض بوده نباید زنان جاهل و بی تعلیم نگهداشته شوند (اساروش تعلیم آن باید طبق د ستورات اسلام عیار گردیده باشد)

٧ ـ برای زنان حق میراث را ثابت گردانید و ابلاغ کردکه زنان نیز از میراث حق معلوم دارند .

٨ ـ حقوق زنان چون حقوق مردان تاییدگردیدو تو ضیح شد که زنان بحیث کنیز و مزدور نبوده بلکه دارای حقوق معلوم و ثابت اند .

دغه بحث پرله پسی څیړل شوی او دګهیځ د ١٣٥١ لمریز په تولوګنوکی خپور شوی دی .

دغه بحث له چارزدهی‌نه د خاتول په مستعار نوم لیکل شوی چې د استاد عبدالاحد عشرتی د ګڼو مستعارو نو مونو یو نوم دی . ښاپي و وایوچې استاد عشرتی په ګهیځ جریده کې په «۲۳» مستعارو نومونو مضامین او مقالی لیکلی او خپری شویدی .

اسلامی نړی :

تر پورتینی سر لیک لاندی د اسلامی امت په اړه خبرونه ، د استعمارګرو له خوا د اسلامی امت پر خلاف د توطیئو سازشو اومانو رو په شاو خواکی بحثونه شوی د هغوی له تهدیدونو او خطرونوخبری‌شوی او د هوښیاراوسی‌غږ پورته شوی، زموږ د اسلامی هیواد پر سیاسی او تولنیز وضعه ځیرنه او څیړنه شوی او د عالم اسلام د وحدت او یو والی په هکله یې ګڼ مطالب خپاره او د اسلامی نړی له وضعی خبری شویدی .

د ۱۳۵۰ لمریز د جوزا د ۲۸ نیټی په ۱۱ ګڼه کی لیکی:

حمله بریکی از مساجد :

عساکر فلپاین در ایالت‌کوتابانو درین اواخر علیه مسلمانان‌که برای ادای نماز گرد آمده بودند حمله وحشیا نه را انجام دادند ، روی این حمله وحشیانه بعضی از مراکز اسلامی احتجاج شدیدی علیه حکومت مانیلا بعمل آوردند.

جریده ګهیځ لازم میداند تا یکباز دیګر توجه ممالک صلیبی را بااین‌نوع حملات وحشیانه معطوف گردانیده جداً خواهش میدارد تا پاپ از قدرت که دارد از اعمال وحشیانه نصرانیها جلوګیری کند و یکبار دیګر توجه حکومت افغانستان خصوصاً وزارت خارجه

افغانستان را باین کشتار جلب نموده تا از طریق د پلوماسي توجه حکومت مانیلا را در برابر این کردارو اعمال ضدانسانی و بشری صلیبهای مانیلا معطوف گرداند .

د دغه گنې په همدغه ستون کې (مدغا سکر) تر عنوان لاندی داور یو مطلب کښل شوی چې (برای جلوگیری اسلام سالانه بیش از پنجصد ملیون دالر از طرف پاپ به مصرف میرسد) ددغه مطلب په ار پوره تو ضیحاث هم ورکړ شویدی .

همدارنګه د ۱۳۵۱ لمریز د لومړی گنې نه تر اوومی گنې پوری پاکستان ته د جریدی د امتیاز خاوند د یوولس ورځنی سفر دقیق را پور تاژ خپور شوی چې د پاکستان دهغه وخت پر سیاسی وضع او د سیاسی ډلوپر فعالیتونو او راتلونکی پی بحث کړی . پدغه سفر کی مرحوم گهیځ د سرحد او پنجاب په صوبو کی له ژورنالستانو د اخبارونوله مدیرانو، محصیلنو او د مختلفو گوندونوله مشرانو او د کتابونو د اشاعت له مرکزو نوسره کتلی ، او د دغه سفر راپور-تاژی دوضعی او حالاتوله بشپړی اوهر ار خیزی ځیرنی سره په اوو گنو کی خپورکړی دی .

مکاتیب وارده :

دغه ستون د افغانستان د مسلمان او مظلوم ولس ، دهیلو، غوښتنو، پشنهادونو، انتقادونو او د دولتی ادارولە بی‌غوری او اداری فسادنه د شکایت او د ستونز ونو انعکاس لپاره بیل شوی ، چې د هیواد د بیلا بیلو سیموداستوگنو له خوا د گهیځ اداری ته استول شوی لیکونه خپروی ، پدی توگه د محرومو او مستضعفو خلکو د غږ

د خپراوی او د ولس د کړ اومـن ژوند د انعکاس د یـوی روښانـه هنداری بنه لری .

و ګوری د ۱۳۵۱ لمریز د سرطان د ۱۱ نیټی د ۱۳ ګنی پـه دریم مخ کی د مکاتیب وارده ستون :

ډمدیریت محترم جریده اسلامی ګهیځ .

قبلاً یکمقدار ګندم از طرف ریاست سره میاشت طور کمک برای مردم بی بضاعت ولسوالی نجراب داده شـده بود که از طرف ولسوال منطقه توزیع گردد .

اما این کمک ناچیز سره میاست بازهم به مردم نجراب بدرستی نرسیـد و برای اشخاص غیر مستحق و زمین دارداده شده است ، که وکیل صاحب نجراب و خزاندار صاحب و دیگـر بـزرگان منتطقـه وچارکلا هاو رفقای شان از آن بهره بردند .

آیا ازین موضوع والی کاپیسا خبرندارد .

چرا همچنین اشخاص ظالم را زیر باز پرس قانونی قرار نمیدهند که ګندم سره میاشت که طـور کمک بـرای مـردم بیچاره است نـه سرمایدار واهل نفوذ .

توجه والی کاپیسارا میخواهیم .

لا له جان از نجراب

ګهیځ د قلم یو سنګر کی

د میثاق خون مجله د ۱۳۶۰ لمریز په دو ولسمه ګنه کی دشهید منهاج الدین ګهیځ د شهادت د نهم تلین په مناسبت لیکی : درست نه سال پیش از امروز هنگامیکه فساد و انحرافات و اسلام دشمنی سر تا ـ

سر کشور را فرا گرفته بود ، و هیچکس یارا وجرئت آنرا نداشت تا علیه سیاست های ضد اسلامی دولت و تبلیغات و فعالیتهای روس گوایان و منافقان و ملحدان حرفی بزبان آرد و یا سطری رقم زند .

گهیئ این مرد با ایمان و شجاع دست به شمشیر قلم برد و آشکارا در معرکه جهاد فکری و نبرد بین حق و باطل قیام کرد ، و باهمه بی دستگاهی و ناتوانی اش جریده ای را نشر نمود، فشارهای قوای حاکمه افغانستان و تهدیدات وسیه کاری های مزدوران روسی و یاران و دست اندر کاران دولت هرگز بر اراده آهنین او اثری وارد نکرد و کار خویش را با شهامت و برده باری ادامه داد . نگار نده روزی را بخاطر دارد مشتی ارذل و کثیف و وابسته مسکو برای اولین بار در تاریخ افغانستان دختران افغان را به روی صحنه کشیدند وبا پیروی و دستور مسکو درامه ای بنام انسامبل گالها، به نمایش گذاشتندو این عمل درواقع مقدمه ننگینی بود که هرمسلمان باهوش و دوراندیش رادر ترویج فساد و بی بند باری در کشور و تخریب بناء و اساس اسلام بر حذر میداشت اما در برابر این همه زنگهای خطر اقدامات انحرافی دولت ، هیچ گوشی تکان نخورد و از تالار شورا و سالون سنا صدای برنخاست . اوضاع و احوال رقت بار و دردناک بود که پنداشتی مسلمانی از کشور ما رخت بسته است و مسلمانی در وطن وجود ندارد تنها فریادی که کابل را به لرزه در آورد از حنجره «گهیئ» طنین انداخت و یگانه انتقادی که روی جریده اش نقش بست از خامه رسای او بود.

اعتراض و قیام گهیئ در آن مرحله حساس حیثیت صاعقه ای را داشت همه جانبه و فراگیر که کاخ شاهی و قصر پارلمان را نیز

تکان داد و با شتاب و اضطراب کو شیدند اثرات آنرا در اجتماع خنثی نمایند لیکن گهیځ مبارز و مؤمن این مسلمان فرزانه و راستین بی هیچ بیم و اندیشه ای مجادله اش را ادامه داد و حربه صراحت و رویا روئی را با مقامات دولتی و گماشتگان کرملین ، بر زمین نگذاشت .

گهیځ با درایت و آگاهی اسلامی نقشه های استعمار سرخ را بخوبی میدانست و میخواست تا حد مقدور و ممکن در افشا گری آن بکو شد و از بر نامه های دولت که مجرای آمال و خواست های روس بود پرده بردارد ، و این کاری بود که روس و مزدورانش سخت از آن می هیراسیدند .

او درین کشا کش و پیکار و با تهی دستی هرگز احساس ناتوانی و خستگی نمیکرده از ر کید و افسون دشمنان اسلام باکی نداشت مردانه میرز مید و راه خود را ادامه میداد . . .

هو ! گهیځ مبارزه کوله ، له یوی خوا د انحرافی جریانو او د شرق او غرب د استعماری د سیسو او پټو ښکاره فعالیتونو پر وړاندی مبارزه، او له بلی خوا د افغانستان د مظلوم او محروم ولس پر بر خلیک د بی کفایته ، عیاشی او فاسدی اداری له ناروا حاکمیت سره .

ځکه همدغه فاسده او بی کفایته ورسته اداره وه چې د کمو مفکورو په ټیره د کمونیزم د پرمختیا او پراختیا لپاره بی شرایط او ذهنیتونه اماده کول ، او د اسلام پر خلاف د بیلا بیلو ستاز شونو او ګډو فعالیتونو له لاری د یو بل ترځنګ ولاړو .

او د شهید گهیځ د مبارزی او روحانیت له برکته می ترلاس لاندی لیکنه پیل کړه ، که څه هم دغه لیکنه په هیڅ ډول د شهید منهاج الدین گهیځ د اسلامی مبارزی فرهنگی جهاد او انقلابی دریځ بشپړ او هر اړخیز پیژوندی نشی کیدی، خوبیا هم د اسلام د مظلوم او قهرمان شهید مبارزی او تینگار ته د عقیدت او پیروزوینی له دغه ازانگو تر یوه حده د دوی د ژوند ، مبارزی ، قلم او شهادت په اړه څنی تکی څرگندیدای شی .

په دغه لیکنه کی زما عمده مأخذ د گهیځ د اسلامی جریدی د دوو کلونو کلکسیونونه دی چی په ریښتیاهم د شهید منهاج الدین گهیځ د ژوند او مبارزی روښانه هنداره ده او د هیواد د سیاسی او تولنیزه وضعی نغد یاداشت او ژوندی تاریخ .

په حقیقت کی پدغه لیکنه کی شهید گهیځ له خپلی ژبی او قلم نه معرفی کیږی او همدغه د شهید منهاج الدین گهیځ د ریښتنی او انقلابی ژوند غوره پیژندوی گڼلی شی ، ځکه د هغوی په معرفی او پیژندنه کی کوم ځانگړی مصلحت او طرف نیونی ته څه اړه نه لیده کیږی او زموږ نیت هم پدغه لیکنه کی یواځی د هغه د شخصیت تجلیل او لمانځنه نده ، ځکه د گهیځ غوندی شخصیتونو پیژندنه یواځی د یوه فرد پیژندل ندی ، بلکی د یوه مکتب ، یوه نهضت ، تاریخ او د تولنی د شرایطو او اوضاع پیژندل دی .

گهیځ په دغه دواړو سنګرونو کی مبارزه کوله د بهرنی استعماری سازشونو او اسلام دښمنیو پر وړاندی مبارزه ، او د هیواد د ننه د وخت د نا مطلوبه بی ارادی او پلورل شوو حکامو او سره ښکیلاک له خوشامندو سره .

د ۱۳۵۱ لمریز چنګابس د ۱۱ نیټی د ۱۳ ګنی د څلورم مخ مضمون چی د «خراشیدګی زخم شد و مکروب گرفت» مضمون را اخلو چی د گهیځ داسلامی مبارزی، پاخه ایمان، تینګار، بی‌ساری‌جرئت اسلامی بصیرت او د رایت څرګندوی دی .

«چندین سال پیش وقتی حکومت با بعضی اقدامات ضد اسلامی توسل ورزید . دروازه مملکت بروی کلتور های‌استعماری گشوده شد ، بعضی مردم قد علم کرد او خواستند حکومت متوجه این خراشیدگی شود و نگذارد از آن زخم نا قابل التیامی در پیکر جامعه افغانی بمیان بیاید . اما در مقابل حکومت علماء را محبوس ساخت، احتساب را منع کرد به پولیس سفارش کرد شر ابخور مست را فقط به خانه اش برساند . به معلمین خارجی فرصت داد هر آنچه ایدیو لوژی و عقاید خود شان ایجاب میکند بجوانان تزریق کنند و به نماینده‌های استعمار موقع داد تاجریانات ضد ملی و ضد اسلامی را تخم گذاری کند .

بعداً مردم ملتفت گریدند که این خراشیدگی زخم شد ، باز هم سرو صدای براه انداختند اما حکومت‌با زور بگیرو ببند آنها رامنکوب و متفرق ساخت و نام آنرا نفوذ دست اجانب گذاشت و خود شانرا مشبوه الهویه خواند .

اینک بالاخره این زخم مکروب گرفت و همه جامعه را از ناحیه فساد عمومی بتشویش انداخت .

شاید آنانیکه امروز به سرقدرتند گناه این همه را بدوش اسلاف خو د اندازند و اخلاف شان به گردن کسانی که حتی امروز هم په علاج این مشکله نمی پردازند .

ولی درینجا ملت باید چه بکند ؟

آیا مسؤلیت افراد این جامعه که تمامیت ارضی و استقلال آنرا پدران شان به خون خود خریده اند برای حراست میراث پدران چیست ؟

نشستن و تماشا کردن ؟

اگر در نتیجه تماشا مکروبهای عضو فاسد شده بسایر اعضا برسد و لا علاج گردد در آنوقت شاید اولیای امور بگویند چطور کنم سهو و اشتباه نمود حالا کار از کار گذشته و امثال آن آیا این کلمات جبران همه خسارات را میکند و آیا باز میشود ورق تاریخ را پاره کرد و زمان را به عقب گردانند و هرچه را از نو شروع کرد . آیا افراد این جامعه مقابل آیندگان و خداوند باز پرس چه جواب دارند .

آیا آنها هم با همان کلماتیکه اهل قدرت در نظر دارند روز مبادا استعمال کند ، خودرا بتر ئه نموده میتوانند ؟

نی و به همان سبب استکه بعضی مردم میخواهند آنچه را که حکومتها در طول مدت تخریب نموده اند اصلاح نمایند ، و حکومت هنوز از وجود این زخم متعفن ، تجاهل نمود وطن دوستان رامیگیرد ومی بندد . . . حکومت باید بداند که نمیتوان دهن مردم را بست اگر

چند نفری را هم بگیرد صد ها و هزار ها مسلمان دیگر بر اعمال حکومت حرف میزنند . واگر بنا باشد که این جدال مبارزین مسلمان با حکومت خاتمه پذیرد این باید حکومت باشد که عقب نشینی کند عناصر و عمال خلاف مصالح ملی و اسلامی را از بین ببرد ، ومتیقین گردد که مسلمانان عقب نشینی نمیکنند.

و خواهی نه خواهی بالاخره تمام عوایقی را که در راه رسیدن به هدف پیش روی خود میابند می بردارند، خواه این عوایق جریانات مخالف مصالح اسلامی و ملی باشند و یا مامورین رسمی شان .»

ددی په څنګ کی ګهیځ د سیاسی مسایلو د تحلیل او سیاسی اصطلاحاتو په هکله هم مطالب خپرول .»

د ۱۳۵۱ لمریز په ۱۳ ګنه«کی روشنفکر کیست و منحرف کی» او همدارنګه په۱۷ ګنه کی د «مرتجع او مترقی» تر عنوانو نولاندی مضامینو کی پر سیاسی اصطلاحاتو او تعبیرونو نبه بحث‌شوی او سیاسی مفاهیم یی څیړلی دی . د کمونستانو جنایات او اسلام‌دښمنی یی د تاریخی مستندو دلایلو او ژوندیو بیلګو په سیوری کی‌ترځیړ- تی لاندی نیولی .

د ۱۳۵۱ لمریز په ۱۷ ګنه کی د «اسلام ومارکسیزم» په ۱۵ ګنه کی «نشرات کمونستهای روس درباره اسلام» ، په ۱۶ ګنه کی «نتیجه دوستی مصر و اسرائیل» په ۱۶ ګنه‌کی «شعبده بازی مارکیست- ها» مقالی د یادونی وړدی .

کهیځ او د هیوا د سیاسی حالات :

د ظاهر شاه‌لس کلنه نیم بنده د موکراسی‌اد بیلا بیلو سیاسی جریانونو د هځو او فعالیتونو داوج دوره ده ، کابل پوهنتون ښوونځی او مدارس د دغه فعالیتونو او هلوځلو د بهیر د موج او څپو مرکزونه وو .

د هر جریان پلویانو هڅه کوله چی د خپلو تبلیغاتی او فرهنگی فعالیتونو له مخی د ښوونځیو او پو هنځیو څوانان خپل جریان ته راکاږی، د جذب او جلب لړی په ډیر زور او قوت سره روانه وه .

په بیلا بیلو ورځوکی به د کابل ښار د سیاسی جریانونو مظاهرو متینگونو او مارشونو خو څاوه .

او دغسی به دهر جریان نشراتی ارگان‌د خپلو لیدرانو بیاینی او ویناوی خپرولی ، په غټو غټو تورو به یی د هغوی د بیاینو څنی جالب ټکی او مطالب چاپول ، نورو غیرگوندی جرایدو به هم ددغو پیښو او جریانونو په هکله را پور تاژونه او په زیاتره موواردوکی د خپلی پیلی پالیسی له مخی مطالب برابرول. د گهیځ اسلامی جریدی سره لدی چی د مسلمانو مبارزینو د مظاهری د جریان خبر او د ویناګوونکی د خبرو عمده ټکی یی خپرول خو لدی سره یی په مظاهره کی د هر جریان د مشرانو او وینا کوونکو د خبرو اساسی او مهم ټکی رانقلول ، له دینی موازینو اسلامی تشخص اوملی ښیګړو سره یی د هغوی نظریات او ویناوی پر تله کولی ، انحرافی ، الحادی او استعماری ارخونو ته یی گوته نیوه او پدغه اړه ئی په بشپړه توګه حقایق او واقعیتونه خپرول ، ددی په څنګ کی یی له نړیوالو حالاتو او د اسلامی آزادی ښوونکو نهضتونو دغور څنګ او مبارزی په

هکله هم مطالب خپرول .

د ګهیځ جریدی د خپرونو تیور یک ارخ :

ګهیځ د اسلام‌د سیاسی، اجتماعی، اقتصادی ، فرهنګی خط مشی په اړه پر له پسی ارځښتناک مطالب خپرول او د خپل محروم او مستضعف ولس د مسؤلانه اسلامی شعور دودی لپاره، پر علمی میتود تکیه در لوده .

له یوی خوا یی دژوند په هر ارخ کی د اسلامی نظام د جامعیت اوله بشری فطرت سره د دغه نظام د سمون او جوړښت په هکله مطالب خپرول ، اسلام پی د یوی ایډیو لوژی او دوران جوړوونکی سیاسی اقتصادی او تولنیز نظام په توګه مطرح کاوه او د بشریت د سوکالی او هوساینی لپاره پی د اسلامی نظام اساسات تشریح او تفسیرول . له نورو ځمکنیو نظامونو او مفکورو سره پی مقاسیه اوپر- تله کول . د الحادی او استعماری ایډیو لوژ یو او قدرتونو پر ماهیت پی مستنده او ژوندی ځیرنه کوله او دغه وړپی د یوی سوچه اسلامی‌تولنی د جوړ و لو لپاره د یو ذهنی‌ژغورنده انقلاب په لارکی رغنده او جوړوونکی مبارزه کوله .

هغه د غیر ذمه‌داره چغو او جذباتی نارو او شعارونو له لاری د یوه مثبت او بریمن او ښتون تمه نلرله ، بلکی د دغسی یوه ستر او ښتون لپاره پی د یوه ذهنی او فکری انقلاب په لارکی هلی ځلی او فرهنګی مبارزه‌کوله، ذهنی انقلاب ترتولو د مخه د یوه اصیل فرهنګ اوادب د ترویج او خپراوی له لاری منځته راتلی شی .

ځکه خو شهید ګهیځ په بنیادی توګه د دغه ډول ضرورتونو ،

غوښتنو او د حالاتو او شرایطو دژوری کتنی ، تحلیل او تجزیی وروسته خپله‌مبارزه او د جریدی تیوریکه برخه پریوه پاخه جامع اغیزمن فکری او انقلابی خط برابره کړی وه .

هغه یواځی دا دبی قواعدو او دژبی د قالب‌بندیو په چوکاټ کی ایسار پاته نشو، بلکی د خپلی ټولنی د اجتماعی، سیاسی، اقتصادی او فرهنگی موقعیت تحلیل، تجزیی او ارز یابی له لاری یی د جریدی مطالب برابرول .

هو ! د افغانستان د اسلامی ټولنی ، اسلامی امت او بین المللی حالاتو او مسایلو دامنی اړخ به نه وی چی گهیځ جریدی پری دخپلی اسلامی موضیعگیری او بصیرت له مخی رنا نه وی اچولی، او د گهیځ د قلمی همکارانو د قلم د توری وړانگی پری نه وی ځلیدلی .

هیڅکله هم د شخصی برداشت او ځانی گرایش له مخی د جریدی مطالب ندی راټول شوی ، بلکی د ټولنی د ښیگړو، ماضی، حال او استقبال او سیاسی معاشی حالات او وضعه یی د اسلامی روح او لیدله مخی څیړلی ده .

د بیلگی په توگه‌مود گهیځ جریدی د ځینو مضامینو سرلیکونه راخلو .

د ۱۳۵۱ لمریزپه ۶ گڼه کی د «سیاست شوروی در مقابل کشور های غربی». «کمونیزم او اسلامی ټولنی»

په ۸ - گڼه کی «په افغانستان کی د معارف تر انکشاف لاندی څه کیږی». په ۹ گڼه کی «سرنوشت درناک المان وبر لین‌یک نمونه ازهمفکری استعمار شرق و غرب ».

په ۱۰- گڼه کی «کمونیزم چیست» .
په ۱۵- گڼه کی : «چند کلمه پیرامون ثقافت اسلامی»
په ۲۰- گڼه کی «آیا با اخراج نظامیان شوروی از مصر انور- سادات کسب محبوبیت کرده .
په ۲۱- گڼه «دروبل استعمار».
«میلو نرها و مردم گرسنه»

د گهیځ جریدی ګټلی محبوبیت که له یوی خوا د علمی، ژوندنیو ، تیوریکه او انقلابی لیکنو نتیجه ده نو له بلی خوا په جریده کی دولس او پرګنو د دردونو او اجتماعی کړ او ونو انځورنی هم د دغه عام مقبولیت په برخه کی بی اغیزی ندی .

حالات او وخت تیریدنه پخپله د گهیځ د خپرونو اهمیت، ارځښت او غوره والی څرګندوی او څومره چی وخت تیریږی هومره د گهیځ جریدی کړی فرهنګی مبارزه او د منهاج الدین گهیځ مقاومت تینګار تدبر ، بصیرت او درایت نورهم ځلیږی او څرګندیږی .

دغا میانه مسؤلانه شعور دودی او عمومی احساس د بیداری په برخه کی د گهیځ نشرات پخپله یوځانګړی انقلاب دی .

هغه د خپلی تولنی او خلکو او ضاع او اطوار وته ژوره پاملرنه در لوده او د اخلاقی شجاعت اوریښتینی جرئت پرتکیه بی فعالیت کاوه . دژوندانه او حیات سمونه او تحول یقیناً د فرهنګ اوادبیاتو تر اصلاح او تحول پوری اړه لری، د همدغه آر له مخی گهیځ د یوه اصیل اسلامی فرهنګ او انقلابی ادبیاتو خپراوی د تولنیز مثبت

اوښتون اوسمون د پیل مرکزی نکته او محور غوره کړی ؤ .

په ۱۳۴۹ لمریز کی د هیواد د سرتا سری علماو وپرغوندو چی د کابل ښار دپلخشتی په جامع جومات کی روانی وی او په هیوادکی یی د کمونستانو پر فعالیتونو او د افغانستان د اسلامی تولنی په مقدساتو د هغوی د تیری پر خلاف مبارزه پیل کړی وه، د وخت د فاصد او پلورل شوی حکومت د وحشیانه حملی په هکله د ګهیځ انقلابی دریځ اوجرأ تمندانه موضعګیری چی «د جوزا څلورم» ترسرلیک لاندی ددغه ورځی د لما نځنی پخاطر د ۱۳۵۱ لمریز په ګټه کی تبصره کړی د هغه ورځی د لمانځنی په یاد کی یی د مسلمانوځوانانو د غونډی او مظاهری جریان هم خپور کړی دی لیکی :

. . . د جوزا په څلورمه نیټه مظاهره د مبارزو او مجاهدو ځوانانو له خوا د سهار په اتوبجود پو هنتون په ساحه کی شروع شوه، اوپس له مفصلو وینا وو څخه مظاهره چیانود ابن سینا او دارالمعلمین دښوونځیو په لوردښار خواتهحرکت وکړچی نومورې حرکت مبارکوکامو، آیاتونو او اسلامی شعارونو پوسیله ښکلی کړی شوی ؤ او په زرګونو خلک ورپسی روان وو، مظاهره کوونکی د پامیر سینما له لاری دمیوند په واټ کی د سپاهی ګمنام په لور په حرکت کی وو ،د سینما پامیر اوسپاهی ګمنام په واټونوکی ډیری جذابی اسلامی و بناوی و شوی چی د خلکو له خوا د «الله اکبر» او اسلام زنده باد په نارو استقبال کیدی ، بیا هغوی د ماپښین د فریضی دادا کولو لپاره د پلی خشتی مسجد ته ولاړل او هلته یی د خلکو او علماووپه وړاندی وینا وی وکړی ، بیاد ماپښین پردو بجود هغو علماوو او

خلکو سره یوځای شول چې ددی ورځې د تجلیل لپاره له لـرې ځایونو څخه راغلی وو .

بیاتول په ګډه د پل باغ عمومی په لوری روان شول ، کله چې د باغ عمومی پله ته ورسیدل ددوی حرکت د کلتور وزارت په لوری وه او کله چې نوموړی وزارت ته ورسیدل خلکو ته یې وویل: چې ای خلکو دغه تعمیر ستاسو په وینو آباد شوی مګرد تأسف او خواشینی ځای دلته دی چې له همدی بلډنګ څخه دبی خدایی فلمونه نشریږی ، لدی وروسته د پارک زر نګار غونډی ته ولاړل او مسلمانو ځوانانو وار په وار خپلې انقلابي ویناوی و اوروله»

د ویناکوونکو د خبرو د عمده ټکوله یادولو وروسته ګهیځ جریده په. نوټ کې لیکی : «هر هغـه حکـومت چـې نه غـواړی ټول اسلامی احکام جاری کړی که څه هم افرادي ظاهراً مسلمان وی د اسلام په اصطلاح غیر اسلامی بلل کیږی» .

د هیواد د محرمو او بیوزلو طبقو د ټولنیږی بنې او طبقاتی کشمکش بې عدالتی ، نا انډولی اونا برابـری په هکلـه چې د وخـت دبی کفایته رژیمونو د فاسد اداری نظام زیږ نده ده ګهیځ بیله ویری او ډاره پـدی اړه د «ملیـونر هـا و مـردم ګرسنـه» تـر سر لیـک لاندی لیکی .

ملت ګرسنه و فقیر بجسم ضعیفی میماند که برای گرفتن هر نوع مرض آماده باشد اصلا نان، لباس و مسکن از جمله آن ضروریات بنی آدم است کـه هـر منطـق وهـر نـوع استـدلال مقابـل آنهـا از پامی افتد .

ایا شخصی گرسنه بجز اینکه قرصی نانی داشته باشد به استدلالی سیر میشود ، یکپارچه لباس میتواند برهنه ای راپپوشاند یاصد دلیل ؟ !

وقتی خواستند مردم را زیر استعمار آورند ، اولتر آنها را فقیر میسازند و برای مردم فقیر که لقمه نانی نشان داده شد حاکمیت هرکس راقبول میکنندکه نان دارد .

ازمدتیست فریاد میکشم که بفکر مردم باشید ورنه دیگران آنها را اغوا میکنند ولی کسانیکه قدرت حکم و سرمایه بدست شان است آنقدر مست و مغرور هستند که نه گوش شان می شنود ونه گذارشات اطراف خود را می بینند .

یکبار دیگر باین وزراء ، باین سرمایه داران گوشزد میکنم که مملکت نزدیک به پرتگاه خطر رسیده و اگر آنها بزدوی بو ظایف خود ملتفت نشوند کار از کارمیگذرد .

چرا این حکمرانان و سر مایداران متوجه خطر نمیشود ، چرا نمی بیند که در هرات مردم اطفال خود را بخاطر لقمه نانی بر سرک میگذارند و میروند ، چرا خبر نیستند که در ایالت مرکزی و شمال شرقی برادران و خواهران شان از گرسنگی میمیرند ، چرا از گرسنگی مردم مزار و هزاران نفر قحطی زده که از میمنه و شبرغان به آنجا هجوم آورده اند بی خبری نشان میدهند ؟

چرا نمیتواند گندم گدایی را میان مردم درست تقسیم کنند ، چرا سرمایه سر مایداران قارون صفت را که از خون همین مردم جمع شده اند به نفع این مردم بکار نمی انداز د .

گهیځ د مبارزی په ډګرکی

هغه وخت چی د افغانستان اسلامی تولنه د خپل ستراتیژیک او حساس موقعیت له مخی د یوی سټری بد بختی او فاجعی ترجدی تهدید لاندی د فلاکت خواته لیږ دول کیده .

هغه وخت چی اسلامی افغانستان د بی کفایته او عیاشو واکمنو د غلطو سیاستونو په نتیجه کی د سره شکیلاک د وحشت د خونړی ښامار کومی ته ورټیل وهل کیده .

هغه وخت چی زمونږ د کران هیواد پرخلاف د استعمار د توطئو شازشونو او مانورو لومی خوریدی .
هو ! یو لوی تهدید او ستر خطر .

له بهرنه د استعمار د نفوذ تهدید او خطر ، او په هیواد کی دننه د فاسدو او خپلسرو حکامو دمنفی کړنو له امله د دغه خطر او تهدید د لاری او اړولو پالیسی او د ذهنیتونو د انتقال هڅی .

د فقر ، بی عدالتی، او نا برابری په نتیجه کی د پردیواستعماری مفکورو او ازمونو بهیر د افغانتسان د مسلمان او مظلوم ملت پر اوږو سخت دروند والی کاوه او د دغه ستر خطر او تهدید د فاجعی له تحقق سره مرسته .

منهاج الدین گهیځ پدغسی یوه تولنه کی او سیده ، هلته چی سیاست د زور او تزویر پرمسند تکیه کړی وه ، هلته چی له دین نه اخوندی تعبیر او مغرضانه برداشت ، او له دین سره د نا اهلهحکامو معاملی او برخورد د دین اصلی ، اجتماعی او انقلابی ریښتنی بڼه

همین حالا سر مایدارانی داریم که صد ها ملیون دالر پولی که بنام تجارت جمع کرده اند دربانکهای خارج به نفع شخصی شان میچرخد . و مردم نه تنها از گرسنگی می میرند بلکه تادم مرگ بچنگال های این انسانهای حیوان صفت و دهن های متعفن شانرا بر شارگهای خشکیده خود می مکد ؟

. . . . اگر سر مایداران ملتفت خطر نشوند اگر حکومت مست قدرت باشد تخریبکاران به نفع خود از وضع استفاد مینمایند .

به آنها نان واشتراکیت سرمایه و لباس و زندگی مرفه نشان میدهند طبعا سایر دلایل زیر پای مشاهدات عینی واقع میگردد .

. . . . بمنظور جلو گیری از فقر و تباهی مردم بینوا آیا ممکن نیست مقررات شرعی تطبیق گردد ، در صورتیکه حکومت نسبت به ضعف نتواند احکام اسلامی را عملی نماید دیگر چاره مردم ور هایی از فقر جز مرگ نخواهد بود وباید حکومت ملتفت باشد در صورتیکه آنها نخواهند امر خداوندیرا تطبیق نمایند، ضرور جواب این همه سکوت را و نتایج سوء آنرا به خداوند خواهد گفت و مسؤلیت مستقیم تباهی جامعه وگمراهی آنها که از ین راه بمیان می آید بدوش حکومت خواهد بود . . . . »

«نتیجه دوستی مصروشوروی» دا هغه مقاله ده چی د جریدی د ۱۳۵۱ لمریز په ۱۲ گڼه کی خپره شوی چی د یوی سیاسی تبصری بڼه لری او د مصر او روسیی پر دوستی !! ټرونونو ، راکړه ، ورکړه نظامی مرستو، وعدو او عملی قدم او روابطو په هکله مستند مطالب را نغښتل شوی او په پای کی یی له اسرائیلو سره د مصر په جګړه کی

د روسیی شیطانی موقف څیرلی ؛ او نړیوال په تیره مسلمان هیواد و نه د کمونیزم د دوستی ! مرستو ! او همکاری له ماهیت او استعماری هویت نه خبروی او هوشدار ورکوی .

(وضع پر هنتون قابل بررسی است) دا دیوه بل مضمون سرلیک دی چې د پوهنتون پر سیاسی او تعلیمی وضعه یې تبصره کړی ، د پوهنتون په اداری او تدریسی چاروکی یې دپردیو استعماری څوا- کونو لاس وهنوته گوته نیولی ، هلته یې د کمونستا نو پیشرمانه فعالیتونو ته اشاره کړی او د مسلطی وضعی د دوام په صورت کی یې حالات بحرانی او راتلونکی تیاره او خطرناکه ښودلی ده .

(دروبل استعمار) تر عنوان لاندی د ۱۳۵۱ لمریز په شلمه گڼه کی یو مضمون خپور شوی چې د روس پر استعماری تجارت بحث شوی، د دریمی نړی د هیوادونو دمحصولاتو او اومو موادو په لو- تمار او په مقابل کی پر هغوی د بې گټی غیر ضروری مصنوعاتو تحمیل څیرل شوی او د اثابته شوی چې د روسی د مرستو پالیسی دزاړه استعمار او امپر یالیزم څخه څوځلی مضره ده . د اسلامی مفکرینو او مشاهیر ولکه شهید امت سید قطب او علامه مودوی گڼې تیوریک او انقلابی لیکنې یې پرپښتو او دری ژباړلی او په جریده کی خپری کړیدی .

د اسلامی سوسیالیزم شعار !!!

یو وخت وه چې د اسلامی سوسیالیزم په نامه د څینو اسلامی هیواد و ځما مدارانو اوگوندونو له خوا یولړ حرکتونه روان وو .

څینو سوسیالیزم د اقتصادی کړنلاری په توگه تائیداوه ، څینو

به دین اسلام او معیشت سوسیالیزم شعار ورکا وه .

څینو به د اسلام او سوسیالیزم تر منځ د یو والی منصوبې وړاندی کولی او څینو نوروبه سوسیالیزم او اسلام دواړه د خپل جریان د خط مشی په توګه معرفی کول .

زموږ په هیواد کی هم دغه ډول افکار او جریانونه روان ؤ ، د دغه حرکت پر خلاف چې د اسلام سره د مقابلې او دښمنی بیل رنګ او نیرنګ ګډل کیده د ګهیځ جریدی بیا هم د دغه حربی پر وړاندی په مبارزه لاس پوری کړ او د دغه توطئی په مقابل کی یې د خپل اسلامی بصیرت او فقاهت له مخی بشپړاو هر اړ خیز توضحیات او خپرونی وکړی .

